**لنډه یادونه**: لاندې لیکنه د «ډاکتر نجیب الله د شعر په هینداره کې» تر سرلیک لاندې د شعرونو ټولګې لپاره چمتو شوې وه چې د شهید ډاکتر نجیب الله د پنځلسم تلین په درشل کې د کابل په ښار کې له چاپه ووته او لېواله هېوادوالو ته وړاندې شوه. مناسبه ګڼم چې د شهید ډاکتر نجیب الله د پنځلسم تلین په مناسبت د «وطن پېغام» ځانګړو خپرونو په لړ کې یې د درنو لوستونکو چوپړ ته وړاندې کړم.

په درنښت

ایمل پیروز

---

# د ډاکتر نجیب الله انځور په شعر کې

د زمان په شنه دریاب کې هر څه وینمه تیرېږي
د پیړیو په ګرداب کې تورو تلو ته ټیټېږي
د رڼه زړګي خاونده ستا څراغ ته زه حیران یم
چې د مرګ په ورکه لار کې لا رپېږي، لا بلېږي

دا دې پنځلس کاله پر هغه توره شپه تېرېږي چې لمنه یې د ټولېدو نوم پر خوله نه اخلي. هغه شپه چې د «تیارې زمنو» د سوله خوښوونکو افغانانو د هیلو او امیدونو «لمر» (ډاکتر نجیب الله) له هسکه راکښېست او هېوادوال یې د یو بل ناورین پر ټغر کېنول. خو ځینو په غلطه دا ګمان وکړ چې ګواکې ددی سره غبرګ د هغه نوم، ویاړ او فکر هم د خاورو خوراک شو. ځکه چې د ډاکتر نجیب الله ثابته شوې ریښتینولی او خپل هېواد سره د هغه بې پایه مینه ددی سبب شوې چې هغه د با احساسه افغانانو د «زړونو» پر مُلک په بې تاجه «واکمن» بدل کړي. ددی کلونو په ترڅ کې افغانانو د ډاکتر نجیب الله په وړاندې خپل احساس، ارادت، د هغه د خدمتونو قدرپېژندنه او بلاخره د هغه د سیاسي کرښلارې په اړه خپل برداشتونه په بېلابېلو بڼو کې څرګند کړي. چا خپل نظر او برداشت د څېړنیزو لیکنو په توګه څرګند کړې، چا خپل یادداشتونه او خاطرې برسېره کړي، چا یې په عکسونو باندې خپل ناستځایونه (دفترونه، کورونه، جونګړې، موټرې او ... ) سینګار کړي، او چا هم خپل احساس او عواطف په منظومه

کلامو کې د لطیفو الفاظو د پېڅلو له لارې بیان کړي چې دا دې ددی «شعرونو ټولګې» په توګه یې ببلګه په لاس کې لرو.

د شهید ډاکتر نجیب الله شخصیت، د هغه لوی انساني ارمان، د هغه لخوا د افغاني سیاست په ډګر کې د تاریخي او مثبتو نوښتونو منځ ته راوړنه، د زوړ سیاست او شړیدلو باورونو د سیستم په لور د انتقاد ګوته نیونه ژورو علمي څېړنو او لویو بحثونو ته اړتیا لري چې د حاضرې لیکنې موخه نده. د همدې لپاره دلته به د رسم د پرځای کولو په پلمه پر لنډو خبرو بسنه وشي. خو مخکې لدې چې په شعر کې د ډاکتر نجیب الله د انځور څرګندیدو په اړه په مؤجزه توګه خبرې ولرو، مناسبه به وي چې په افغاني ټولنه کې په عمومي ډول د شعر څرنګوالي او اهمیت په هکله هم څو لنډې خو لازمې یادونې وشي.

یو لوېدیځي افغانستان پېژندونکي[1] خورا پرځای افغانستان د «شاعرانو هېواد» په نوم ستایلی. بې له شکه شاعري د افغاني ادبیاتو تر ټولو اساسي ستنه جوړوي چې د ټولنیزو او سیاسي حالتونو واقعیت په بیلابیلو بڼو کې بیانوي او هم یې د منځ ته راوړلو په کار کې اغېزمن نقش لوبوي. همداراز افغانان په ځانګړې توګه له شاعرۍ څخه د ورځني ژوند په چارو کې د احساساتو او فکرونو د تبادلې لپاره د وسیلې په توګه کار اخلي. سربېره پر دې افغانان د دلیل راوړلو، د ژورو افکارو د رسولو، استدلال وړاندې کولو یا له هغه څخه پلوي کولو او مهمو مسائلو ته د پام راګرځولو لپاره شاعري کاروي. ښایي ددی کار یو علت دا وي چې شعر په کمو خبرو او مختصرو ابیاتو کې د ژورو احساساتو او پېچلو مفکرو د بیان لپاره یوه اغېزمنه وسیله ده. له شعر څخه په دې توګه ګټه اخیستل هم په لیکل شویو او هم په شفاهي (ولسي) ادبیاتو کې عام کار دی. په افغانستان کې په عمومي توګه د لیک-لوست ټیټه کچه او له همدې وجې او نورو معلومو لاملونو له کبله د چاپي آسانتیاوو کمښت یا نشتوالي هم ددې سبب ګرځي چې افغانان خپل نړۍ لید د شعرونو په بڼه څرګند کړي یا الهام ترې واخلي. افغانان ددی سره جوخت چې د شعر په بڼه کې خپل عاطفي او باطني نړۍ ننداري ته ږدي، ورسره تاریخي پېښې، ټولنیزې ناخوالې او له هغو څخه خپل برداشتونه بیانوي. د همدې کبله په افغانستان کې شعر د ځینو تاریخي او کلتوري موضوعاتو د علمي- څېړنیز کار په ترڅ کې نسبي وړتیا پیدا کوي.

له بل پلوه شعر یو کلتوري ارزښت دی چې بیا په ځانګړې په افغاني ټولنه کې یې ژورې تاریخي ریښې او اغېزې درلودلې دي او لوی نه هېرېدونکې تاریخي حماسې او ویاړونه یې هست کړي او ساتنې ته

---

[1] لوئیس دوپري (۱۹۲۵ – ۱۹۸۹)، د شمالي امریکې انسان پېژندونکي - **Anthropologist**.

یې اړم شوې دی. که پیاوړي ادیب او غښتلي تورزن خوشحال خان خټک د شعر او قلم په مرسته د ویدو پرګنو په زړونو کې د خوځښت او ذهنونو کې د آزادۍ خیال لمسولې نو له بلې خوا د همدې منظومه کلامو په ځواک د «ملالۍ» په لنډۍ کې د بې ننګۍ د پېغور ګوابن افغاني جنګیالي د وطن په مینه د «شهادت» منلو ته هڅولي او د «ننګ» او «بې ننګۍ» تر منځ یې د انتخاب په کار کې حیران کړي دي، خو افغانانو ته ویاړ ګټلې، هغه ویاړ چې د نړۍ تاریخ پرې شاهدي وهي.

د شعرونو ځیني ابیات کله نا کله د خپلې مانا او منځپانګې له مخې په عامو متلونو بدلېږي او خلک ترې د خپلو خبرو د ساده بیان او استناد لپاره کار اخلي او په هماغه توګه خپل مخاطبان د انتخاب په دوه لاري کې دروي. شهید ډاکتر نجیب الله هم د شعر د مفهوم پوهېدلو، له هغه څخه الهام اخیستلو او بیا د بیان لېواله و. د بېلګې په توګه، هغه د خپل ستر آرمان او سیاسي باورونو تر ټولو لنډ بیان په لاندې شعر کې موندلې و، چې:

څو دې توان رسي په لوی دریاب کې ګرځه
په ویالې کې دې زوال وینم نهنګه[2]

په زغرده ویلې شو چې د شهید ډاکتر نجیب الله د سیاسي تفکر او کړنلارو لویه اساسي برخه د پورتني شعر په مانا او تفصیل کې نغښتې ده او تصادفي نه وه چې ډاکتر نجیب الله همدا شعر ډېري وختونه تکراروه او په دې کمو خو بامفهومه الفاظو یې ټولو افغانانو ته پېغام ورکاؤ او توصیه یې کوله چې په وړو ویالو کې له رغړېدو څخه – چې هماغه سکتاریستي ګټو پسې تلل دي – بېزاره شي؛ او لوړ ارمانونه – یانې د ټول هېواد او هېوادوالو عمومي ګټې – خپل هدف وګرځوي او هغو ته د خدمت په کار او لار کې خپل «توان» وګماري. همدا راز ډاکتر نجیب الله د لاندې بیت په منځپانګه کې خپلو لارویانو او راتلونکو نسلونو ته د هېوادپالنې یو لوی او ورستې پېغام پرېښود:

دار وي که زندان وي که شرنګا د زولنو
مور به د وطن د سرلوړۍ سندرې بولو[3]

---

[2] د خوشحال خان خټک د یو غزل بیت دی.

[3] دا شعر شهید ډاکتر نجیب الله په کابل کې د ملګرو ملتونو له دفتر څخه د یو لیک په ترڅ کې خپلې کورنۍ او یو شخصي دوست ته د هغوې د لیک په ځواب کې لیکلې او استولې و.

ډاکتر نجيب الله د خپلې انساني تګلارې، هيوادپالنې، ميړانې، سربښندنې، هوډ ساتنې، د شخصيت سپېڅلتيا ، پرهيزګارۍ او بيا د بې ساري شهادت حماسې سره له ځانه د اتلولۍ داسې بيلګه پرېښوده چې په افغاني شعر کې يې د ***واقعيت*** او ***تخيل*** تر منځ د واټنونو مزي لنډ او د اتصال ځای ايجاد کړ (او د حماسي شعر ويونکي شاعر تخيل ته يې تازه او نوې مضمون وروبښه). د اوو کلونو رياست جمهوري او په همدې له ننګونو ډک تاريخي پړاو کې د انساني کړنلاراو په وړاندې کولو او پلي کولو بيا د هيواد ساتنې او هغه ته د لا وياړ ګټنې په خاطر د حماسي شهادت د جام پورته کولو سره، ډاکتر نجيب الله د عامو وګړو پر «زړونو» مطلقې «واکمنۍ» ته ورسيد او د ولسي شاعر ساده فکر ته يې د شعر سوژه ورکړه او په سندرو کې داسې وستايل شو:

پرون پاچا و نن په دار ټالې وهينه
شم ترې ځار ځار،
وشول د نجيب سره ظلمونه

که پرې هزار کلونه تير شي
نجيب به مانه کله هير شي
زه ګل فراز ورپسې اوس ليکم شعرونه
شم ترې ځار ځار،
وشول د نجيب سره ظلمونه
...



هغه جذبه او هغه توان له کومه راپيدا کيږي چې خاورين انسان د خپلو ټولو محدوديتونو سره سره – چې طبيعت او د هستۍ ناظم ورته ټاکلي – سختو، ستونزو، ناخوالو او شکنجو ته غيږه ورکوي خو له خپلو ژمنو، ايډيالونو او ارزښتو څخه نه اوړي؟ مګر انسان د درد د حس ترځنګه حرص او هوس نه لري؟ ښکاره ده چې لري يې. خو ددې شيطاني ښامارانو د محارولو لپاره لازمه ده چې انسان د ټينګې ارادې ترڅنګ رېښتيني ايډيالونه او ارزښتونه او همدا راز هغو ته رېښتيني درناوې په ځان کې وروزي، وپالي او وساتي. ددې ايډيالونو د ساتلو لپاره پراخه سينه او په هغې کې رېښتينې مينه په کار ده. په يقين چې ډاکتر نجيب الله همداسې يوه مينه په زړه او ځان کې روزلې وه. د وطن او وطنوال مينه، د انسان او انسانيت مينه. ځکه يې ددې لويې او سپېڅلې مينې په وړاندې خپله فزيکي هستي په پام کې ونه نيوله او د ژوند تر وروستۍ ګړۍ خپلو کړو ژمنو ته وفادار پاتې شو.

**بدرګـــه کـــه محبـــت راســـره نـــه وای**
**یک تنها به په خونخوارو لارو تلل څـوک**

او...

**چې مېنان وي واړه**
**پر همدې لاره به ځي**
**منصور د حق په چيغه**
**تر رسۍ داره ځي**
**دا دي جهان منلي** [۴]

هماغسې چې په عاشقانه شعر کې د ستايلو لپاره تخيلي يا واقعي محبوب ته اړتيا وي او د استعارو او تشبيهاتو په بڼه کې د شاعر د زړه په ګوتو د غزل ناوې پرې سينګارېږي، سم هماغسې په حماسي شعرونو کې د حق او باطل، هيوادساتنې او د هغه معکوس چلند تر منځ د توپير د انځورولو لپاره د ډاکټر نجيب الله شخصيت او کړو وړو شاعرانو ته يوه ژوندۍ او عملي سوژه پرې ايښې ده.

په حماسي شعر کې د يو رېښتيني اتل ځانګړنې په ګڼو صفاتو، تشبيهاتو او استعارو يادې شوې. رښتينولۍ، ميړانه، سرښندنه، هيوادساتنه، د ناموس پالنه، د هوډ ساتنه او بيا پرهيزګاري هغه مفاهيم او صفات دي چې د حماسي شعر ويوونکي ورڅخه الهام اخلي. داسې برېښي چې د ډاکټر نجيب الله روح د يو اتل په بڼه له پخوا څخه د افغاني شعر په نړۍ کې موجود و. د اتلولې کومې ځانګړتياوې چې په پښتو او دري/فارسي شعر کې له پېړيو راهيسې انځورول کېږي، دلته يې موږ ټول صفات د يو شخص په وجود کې وينو. او بې له شکه، دا هغه ځانګړنه ده چې شهيد ډاکټر نجيب الله تر نورو اوچتوي.

بيا د خوشحال خټک د شعرونو هغه اتل چې تر پېړيو په کتابونو کې بنديوان و، زموږ په دور د يو ميړني اتل د بشپړو صفاتو سره د ډاکټر نجيب الله په وجود کې راڅرګند شو او ښايي د خوشحال ارواح يې هم د «**تعجب**» سره مخ کړې وي چې کله يې وبيلي وو:

---

[۴] له همدې ټولګې څخه

**خټک خو پرېږده په درست افغان کې**
**عجب که هسې بل ننګیالې راشي**

نو د «شعر په هینداره کې» د ډاکتر نجیب الله ځرګندیدل تصادفي پیښه نه ده. ریښتیا دا ده چې ډاکتر نجیب الله د هغو انکار نه منونکو انساني- افغاني صفاتو او ځانګړتیاوو سره چې د هغه شخصیت پرې بشپړیږي په طبعي توګه د شعر عاطفي قالب ته ځان جوړوي.

د ډاکتر نجیب الله د شخصیت انځور نه یوازې دا چې د پیژندل شویو او پیاوړو شاعرانو په شعر کې لاره کړې بلکې د عام وګړو په تخیل کې یې خپل داسې انځور جوړ کړې چې هغوی یې ناخودآګاه د شعر ویلو او لیکلو ته لمسولي چې د شعرونو په همدې ټولګه کې یې بیلګې ترسترګو کیدې شي.

د مخورو مشرانو او سیاستوالو کره وړه د هغوی د وړاندې وروسته شرایطو د انډول په هینداره کې ارزول کیږي. نو د یادونې وړ ده چې ډاکتر نجیب الله د افغانستان ترټولو سختو او له ننګونو ډکو شرایطو کې د دولتي مشرتابه واګې په لاس واخیستې؛ د لویو آزموینو سره مخامخ شو خو د خپلو خلکو او تاریخ په وړاندې په هسکه غاړه او جګو سترګو راووت. هغه څه چې په خاصه توګه په افغاني ټولنه کې د شهید ډاکتر نجیب الله د شخصیت تاریخي او سیاسي اهمیت زیاتوي، د هغه ملي کرکټر دې. شهید ډاکتر نجیب الله نه یوازې له توکمیزو، ژبنیو، سمیه ایزو او... تعصبونو او توپیرپالنو څخه پاک وو بلکه د هېوادوالو د خپلمنځي اختلافاتو لرې کول او د یووالي ټینګول یې د خپل ژوند اساسي هدف ټاکلې و. په همدې وجې د هېواد د ګڼو قومونو خلک ورته د قدر په سترګه ګوري او د هغه ملي صفات د افغانستان په غبرګو ژبو کې ستایې.

په سیاسي ډګر کې، نه د شهید ډاکتر نجیب الله جسارت او نه هم د هغه کړنلاره مخکښنیو او وروستنیو سیاستوالو سره پرتله کېدای شي. هغه د خپلو خلکو برحقه غوښتنو ته (چې هماغه د ښکېلاکګرو څخه د وطن ژغورل وو) درناوې وکړ او د پلي کولو په لار کې یې د لویو نړیوالو سیاستونو او انتظاراتو په وړاندې ودرید او لویې دښمنۍ یې (هم په نړیواله کچه او هم دننه په ګوند کې) پرځان ومنلې او همدا یې د شهادت سبب هم وګرځېد، او د چا په وېنا د قربانیو په ډګر کې یې «نوې ورور منصور ته ورکړ».

هیله ده چې دا کتاب د یو ستر انسان په هکله د لسګونو نورو خپرونو ترڅنګ د هغه د مینه والو د احساس او نظرونو د خوندي ساتلو په کار کې خپل اغېزمن نقش ترسره کړي.

**په افغانستان کې د رېښتينې سولې بسيا کولو، د هېواد د بيا رغولو او په درنه توګه د آواره کډوالو د بيا ستنيدلو په لار او کار کې د شهيد ډاکتر نجيب الله د آرمان رېښتينو پلويانو ته د لوي څښتن له دربار څخه توفيق او برياوې غواړم.**

**د هېواد ددی وياړلي مشر نوم، سپېڅلې آرمان او ستر فکر دی د تل لپاره ژوندي وي.**

په درنښت

ايمل پېروز

«د وطن پېغام» (انټرنټي رسنۍ) مسئول

